مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: پروفیسور دکتور اورهان یازجي
ژباړن: سیلانی

۲۰۲۶/۰۷/۱۵

# د صفوي واکمنۍ کورنۍ په ړنګېدو کې د افغان قبایلو ونډه

د شپاړسمې پېړۍ له پیل څخه صفویانو ایران تر خپلې واکمنۍ لاندې راوست. دغه دولت په لوېدیځ کې له عثماني امپراتورۍ، په ختیځ کې د ترکستان له خانانو او په سوېل کې له بابري دولت سره ګډې پولې درلودې. د اتلسمې پېړۍ تر پیله پورې یې د سیمې د یوه مهم سیاسي ځواک په توګه خپل موجودیت وساته. صفویانو په ایران کې د څه باندې دوو پېړیو واکمنۍ پر مهال، د خپلې واکمنۍ د قلمرو د پراخولو، له ایران او شاوخوا سیمو څخه د تېرېدونکو سوداګریزو لارو د کنټرول او د شیعه مذهب د خپرولو لپاره چې هغوی ورته د ملي عقیدې په توګه کتل، په درې واړو لوریو کې پراخې مبارزې وکړې او د پام وړ بریاوې یې ترلاسه کړې.

خو د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې تر ټولو مهمه مسئله چې صفویان ورسره مخ شول، هغه په هرات او کندهار کې د افغان قبایلو مخ پر زیاتېدونکي ځواک و. هغه لښکرې چې صفویانو کندهار ته د خپلې واکمنۍ د ساتلو لپاره استولې و، د افغان قبایلو پر وړاندې یو په بل پسې مات شول. دې ماتې په ایران کې سیاسي ثبات ګډوډ کړ او څه موده وروسته افغان قبایلو اصفهان ونیو او د صفوي واکمنې کورنۍ واکمنۍ ته یې د پای ټکی کېښود.
د مقالې مهمې کلمې: صفوي واکمنه کورنۍ، افغان قبایل، غلجیان، ابدالیان، میرویس خان او میرمحمود.

سریزه
د شپاړسمې پېړۍ په لومړیو کې په ایران کې د صفوي دولت له جوړېدو وروسته، په لوېدیځ کې له ګاونډي عثماني دولت سره د صفویانو د سیاسي او سوداګریزو اړیکو په اړه ډېر معلومات لرو. د دغو دوو دولتونو ترمنځ، په ځانګړې ډول پر آذربایجان او عراقِ عجم کې، نږدې دوه پېړۍ روانه سیالي د سیمې د تاریخ له مهمو مسئلو څخه وه (Uzunçarşılı، 1988/III: ، 243 .(له عثمانیانو پرته، د صفویانو بل سیال د دوی په ختیځ کې پروت بابري دولت و .

د شپاړسمې پېړۍ له نیمایي وروسته، بابري دولت په هند کې د یوه ځواک په توګه راڅرګند شو. له دې سره، د صفوي او بابري دولتونو ترمنځ پر کندهار کې نه ختمېدونکې سیالۍ روانه شوه، ځکه کندهار د هند، ایران او ترکستان ترمنځ د سوداګریزو لارو په مهم نښلونکي ځای کې موقعیت درلود.[1] کندهار، چې د هند او ایران ترمنځ د سوداګرۍ له سترو مرکزونو څخه و، په ۱۵۲۲ زېږدیز کال کې د بابرشاه له خوا ونیول شو.[2] په دې دوره کې په کندهار او شاوخوا سیمو کې چې د بابر زوی کامران یې د والي په توګه ټاکل شوی و، ډېر ځواکمن قبایل مېشت وو. غلجیان[3]، چې د کابل، غزني، کندهار پر کربنه یې د اوړي او ژمي د موسمي مهاجرت ژوند درلود، د پسونو د لویو رمو او له سوداګریزو کاروانونو څخه د ترلاسه کېدونکو عوایدو له امله د سیمې د تر ټولو سترې قبیلې په توګه راڅرګند شوي وو (بابر، ۱۹۸۷: ۲۳۰–۲۳۵).
غلجیان، چې د بابري دولت تر واکمنۍ لاندې راغلي و، د شپاړسمې پېړۍ له نیمایي وروسته د کندهار په مرکزیت د غزني-کابل لارې د کنټرول او په سیمه کې د نظم د ټینګښت دنده ور وسپارل شوه. په دې توګه، د بابریانو د ملاتړ او له سوداګرۍ څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر مټ، هغوی په لنډه موده کې پر یوه سیاسي ځواک بدل شول (عبدالکریم بخاري، ۱۸۷۶: ۸).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ابدالیان د خراسان تر ټولو مهم ښار هرات ته، چې د صفوي دولت تر واکمنۍ لاندې و، مېشت شول. هغوی اصفهان ته د مالیې په ورکولو او د عسکرو په برابرولو سره په دې سیمه کې د سولې او آرامۍ ژوند غوره کړ.[5] د وخت په تېرېدو ابدالیان د دې سرحدي ولایت له مهمو ځواکونو څخه وګرځېدل. لومړی شاه عباس (۱۵۸۷–۱۶۲۹)، چې د ابدالیانو له خدمتونو څخه ډېر خوښ و، په ۱۵۹۸ زېږدیز کال کې د دې قبیلې یوه مهم مشر اسدالله خان، چې په سدو هم مشهور و،[6] ته د «میرِ افغانان» لقب ورکړ (Lockhart، 1958. 95 :

لومړي شاه عباس د کندهار ستراتیژیک او سوداګریز اهمیت په ښه توګه درک کړی و. د هغه په اند، کندهار چې د هند او ایران ترمنځ پر مهمو سوداګریزو لارو پروت و، له هرات سره یوځای د خراسان برخه ګڼل کېده، له همدې امله د خراسان د امنیت د ټینګښت لپاره اړینه وه چې کندهار د صفوي دولت تر واکمنۍ لاندې وي. له همدې کبله، هغه مهال چې بابري واکمن جهانګیر په دکن کې د پاڅونونو پر ځپلو بوخت و، شاه عباس د کندهار پر لور لښکرکشي وکړه او د ۱۶۲۲ زېږدیز کال د جون پر ۲۱مه یې یاد ښار ونیو (Aydoğmuşoğlu، 2013. 136 :

په دې لښکر کشۍ کې د اسدالله خان تر مشرۍ لاندې ابدالیانو له صفوي پوځ سره تر ټولو ستره مرسته وکړه. لومړي شاه عباس د دې خدمت په بدل کې اسدالله خان ته د «سلطان» لقب ورکړ او هغه یې د کندهار د حاکم په توګه وټاکه.[7] په دې توګه، ابدالیان په کندهار کې د غلجیانو په پرتله لوړ مقام ته ورسېدل، د صفویانو په استازیتوب د سیمې واکمنان شول او نږدې سل کاله یې کندهار او شاوخوا سیمې د صفوي دولت په استازیتوب اداره کړې.[8]

۱. په کندهار کې د صفوي واکمنۍ پای

له اصفهان سره د ابدالیانو ښې اړیکې د شاه حسین (۱۶۹۴–۱۷۲۲) د واکمنۍ پر مهال په خرابېدو شوې. دا هماغه دور و چې صفوي دولت په کې د زوال او ړنګېدو پر لور روان شوی و. په اداره کې د شاه حسین ناتواني، د مالي نظام پرلهپسې خرابوالی، د خپلسرو والیانو او قوماندانانو په لاس کې د پوځ لوېدلی حالت، او پر حکومت د شاه دمور او د حرمسرای د خواجهسرایانو نفوذ، د دولت د کمزورۍ او پر پراخو سیمو د هغه د اغېز د کمېدو لامل شول (Foran، 1992. 282 :
شاه حسین، چې غوښتل یې مالي انضباط او د پوځ نظم بېرته ټینګ کړي، پر ولایتونو د مالیاتو بار زیات کړ. له دې وروسته، د مالیاتو راټولوونکو له کندهار او شاوخوا سیمو کې مېشتو قبایلو څخه په نامعقوله کچه لوړې مالیې وغوښتې او هغه اوسېدونکي یې وځورول چې د مالیاتو په اړه یې اعتراض کاوه. دا چاره پر کندهار د صفویانو د نفوذ د کمزورۍ کېدو تر ټولو مهم لامل و (Sykes، 2351940 :؛ Bellew، 1982. 17 :

د کندهار او شاوخوا سیمو د مالیاتو په راټولولو کې د صفویانو د ناعادلانه کړنو پر وړاندې، تر ټولو لومړی د دولت خان تر مشرۍ لاندې ابدالیانو پاڅون وکړ. صفوي ځواکونو دغه پاڅون په ډېره خونړۍ توګه وځپه او دولت خان یې اړ کړ چې ملتان ته پناه یوسي. هغه سیمه چې ګڼ افغان قبایل په کې اوسېدل. دولت خان په ملتان کې نوي ځواکونه راټول کړل او هغه صفوي لښکرونه یې په دوو جلا جګړو کې مات کړل چې د ده د ځپلو لپاره استول شوي و. د دغو بریاوو په پایله کې، هغه د ټولو افغانانو ترمنځ پراخ شهرت ومونډ.

د دولت خان دغو بریاوو د صفوي پوځ د نه ماتېدونکي قدرت تصور هم له منځه یووړ. کله چې د کندهار او شاوخوا سیمو افغان قبایلو د هغه د بریا خبر واورېد، هغوی هم یو په بل پسې په پاڅون لاس پورې کړ. صفویان له دې وضعیت څخه ووېرېدل او په سیمه کې یې خپل فشار لا پسې زیات کړ. شاه حسین د کندهار پخوانی والي بېرته وروغوښت او پر ځای یې د صفویانو له مشهورو قوماندانانو څخه د ګرجستان شهزاده، ګیورګي یوولسم، د شاهنواز خان (ګرګین خان)[9] په نوم د کندهار د بیګلربیګي (لوی والي) په توګه وټاکه (یوزیفو تفلیسي، ۱۱۳۷: ۷ب؛ لاکهارت، ۱۹۳۸: ۲).

ګرګین خان د ۱۷۰۴ زېږدیز کال د مې میاشتې په لومړیو کې، له څلورو زرو ګرجستاني او شلو زرو قزلباش سرتېرو سره، له کرمان څخه د کندهار پر لور وخوځېد. سیمې ته تر رسېدو سمدستي وروسته، ګرګین خان د افغان قبایلو ترمنځ له شته دښمنیو څخه ګټه واخیسته او د ابدالیانو له سیالې غلجي قبیلې سره یې اتحاد وکړ(Malleson ،
1879 213 :او ورپسې مخونه .(ګرګین خان د غلجیانو په ملاتړ، د کندهار په څنډو کې د ابدالیانو روان پاڅون په ډېره خونړۍ توګه وځپه. وروسته یې دولت خان او د هغه زوی، نظر خان، د شار صفا کلا ته نږدې راګیر کړل او دواړه یې ووژل. د دولت خان نور زامن، رستم خان او زمان خان، یې هم د قبیلې له یوې لویې برخې سره یوځای کرمان ته تبعید کړل (مراشي، ۱۳۴۲: ۲۱).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له کندهاره د ابدالیانو ایستل کېدو غلجیان یو ځل بیا په سیمه کې پر یوه مهم ځواک بدل کړل. غلجیان په هغه وخت کې د کندهار او شاوخوا سیمو په کچه د نږدې پنځوس زره کورنیو نفوس په درلودلو سره خورا پیاوړي و.[10] سربېره پر دې، هغوی د میرویس خان په څېر یو ډېر بانفوذه او کاریزماتیک مشر درلود، چې د ډیلي د واکمن شاهجهان له یوې لمسۍ سره یې واده کړی و او د بابري دولت له بشپړ ملاتړ څخه برخمن و. میرویس خان، د غلجیو د خان او مشر په توګه، په کندهار کې د کلانترۍ[11] دنده هم پر غاړه درلوده او د خلکو په منځ کې یو محبوب او محترم مشر و.[12]

کله چې ګرګین خان د ابدالیانو ګواښ له منځه یووړ، نو پر غلجیانو یې د فشار په زیاتولو سره دا څرګنده کړه چې په کندهار کې به د هېڅ افغان قبیلې پیاوړي کېدو ته اجازه ور نه کړي (Lockhart، 1958: 84؛ Yezdî، 1359: 109). پر غلجیانو د ګرګین خان فشار باید د افغانستان او ایران د دواړو هېوادونو په تاریخ کې یو برخلیکټاکونکی پړاو وګڼل شي، ځکه له دې وروسته رامنځته شویو پېښو د سیمې د تاریخ بهیر په بشپړ ډول بدل کړ.

د غلجیانو پر وړاندې د ګرګین خان لومړنی اقدام هغه مهال پیل شو، چې میرویس خان ته یې د پاڅېدونکو هزاره‌ګانو د ځپلو او تأدیب دنده ور وسپارله. میرویس خان په لنډه موده کې دغه پاڅون وځپه او کندهار ته بېرته راستون شو، خو کله چې یې ولیدل په کندهار کې مېشت ګرجستاني سرتېري له حده اوښتي، ګډوډۍ جوړوي او پر خلکو زورزیاتی کوي، نو پاڅون یې وکړ.[13] ګرګین خان د غلجیانو پاڅون په ډېرې سختۍ وځپه، میرویس خان یې ونیو او اصفهان ته یې ولیږه (Krusinski، 1729: 115؛ Uzunçarşılı، 1988: IV/1، 172). ګرګین خان د اصفهان دربار ته په خپل استولي لیک کې خبرداری ورکړی و چې میرویس خان خورا خطرناک سړی دی، باید تل تر څارنې لاندې وساتل شي او که په ازاده توګه د ګرځېدو اجازه ورکړل شي، ښایي دوی ته ستر زیان ورسوي (Yozefo Tiflisî، 1137: 8a؛ Ewans، 2001: 22).

میرویس خان، چې اصفهان ته راوستل شوی و، تر یوې مودې تر څارنې لاندې وساتل شو. وروسته یې د دربار او شاوخوا بانفوذه کسانو ته هغه کشمیري شالونه، هندي ټوکران او نغدې پیسې د رشوت په توګه ووېشلې، چې له کندهاره یې ورغوښتي و. په دې توګه، هغه په لنډه موده کې خوښې شو او په درباري مجلسونو کې پر داسې بانفوذه شخصیت بدل شو، چې خبرې ته یې غوږ نیول کېده (Maraşî، 1342: 4؛ Krusinski، 1729: 116). په همدې موده کې میرویس خان له نږدې ولیدل چې د اصفهان دربار په څه ډول ناوړه حالت کې دی. هغه دا هم درک کړه چې هلته د لوی وزیر فتح‌علي خان په ګډون ګڼو دولتي چارواکو له ګرګین خان سره دښمني درلوده. میرویس خان د مناسب فرصت له موندلو سره سم شاه حسین ته ځان ورساوه او څرګنده یې کړه چې د ایران پر وړاندې هېڅ ډول دښمنانه او ناوړه نیت نه لري، بلکې دی له خپلې قبیلې سره یوځای د صفوي دولت خدمتګار دی.

له بلې خوا، میرویس خان په ډېر مهارت سره د ګرګین خان د لوړو اداري وړتیاوو یادونه کوله او ټینګار یې کاوه چې نوموړی په ګرجستان ولایت کې د پلویانو یوه خورا پیاوړې ډله لري. هغه ګرګین خان د یوه وړ، زړور او اتل سرتېري او ځواکمن مشر په توګه ستایه او داسې یې څرګندوله چې نوموړی د دریو سترو ولایتونو، یعنې ګرجستان، کرمان او کندهار، د والي کېدو وړتیا لري (Muhammad Ali، 1958: 9). د میرویس خان دغو خبرو په دربار کې د ګرګین خان په ګټه موجود نظرونه بدل کړل او د هغه په اړه یې یو لړ شکونه او اندېښنې راپیدا کړې (Yozefo Tiflisî، 1137: 9a).

میرویس خان، چې پوه شو په اصفهان کې پاتې کېدل ورته کومه ګټه نه رسوي، د صفوي دربار د یوه لوړپوړي چارواکي خواجه‌سرا محمود آغا، په وسیله یې شاه حسین ته خبر ورکړ چې غواړي د خپلې دیني فریضې د ادا کولو لپاره حج ته ولاړ شي. کله چې یې له شاه څخه اجازه ترلاسه کړه، د شیراز له لارې د فارس خلیج ته ورسېد، له هغه ځایه قطیف ته واوښت او د حج سفر یې پیل کړ. میرویس خان مکې ته له رسېدو سره سم، د حجاز له علماوو څخه د دې مسئلې په اړه فتوا وغوښته چې د شیعه‌ګانو تر واکمنۍ لاندې ځپل شوي سونیان باید څه وکړي.[14] هغه له سني علماوو څخه د صفویانو پر وړاندې د جګړې د جواز فتوا ترلاسه کړه او د ۱۷۰۸ زېږدیز کال په اوړي کې اصفهان ته راستون شو.[15] اصفهان ته تر رسېدو وروسته، لومړی یې د صفوي دولت له مخورو سره وکتل، له مکې څخه راوړې ارزښتناکې ډالۍ یې ورته وړاندې کړې او د هغوی د پاملرنې او درناوي وړ وګرځېد (Krusinski، 1729: 126).

هغه مهال چې میرویس خان اصفهان ته راستون شو، صفوي دربار له یوې نوې ستونزې سره مخ شوی و. د روسیې تزار پتر خپل ارمني‌الاصله استازی اسرائیل اوري، شاه حسین ته ورلیږلی و. کله چې دغه استازی د شماخي سرحدي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښار ته ورسېد، د هغه په اړه خپرو شويو خبرونو په اصفهان کې پراخ اغېز او اندېښنه رامنځته کړه Krusinski)، 1729 .(127 :په ځانګړي ډول په اصفهان کې مېشتو اروپايانو دا خبره خپروله چې ګواکې نوموړی د ارمنستان د پاچاهۍ وليعهد دی او د ايران تر واکمنۍ لاندې پر ارمني سيمو د مالکيت دعوه لري. په دې توګه يې د وېرې او وارخطايۍ رامنځته شوې فضا لا پسې پراخه او متشنجه کړه.

ميرويس خان له دې وضعيت څخه ګټه واخيسته او په لومړي مناسب فرصت کې يې شاه حسين ته وويل چې دولت له يوه خورا خطرناک پراو څخه تېرېږي او له هر لوري تر ګواښ لاندې دی. هغه زياته کړه چې د روسيې تزار پټر د صفوي دولت تر واکمنۍ لاندې د مسيحيانو د ملاتړ او پالنې دعوه کوي او راغلی استازی هم بې‌شکه په همدې تړاو کوم پټ هدف لري. ميرويس خان همدارنګه څرګنده کړه چې اصلي خطر دا دی چې مسکو غواړي د ارمنيانو ترڅنګ مسيحي ګرجستانيان هم خپل لوري ته راواړوي، که داسې وشي، دولت به له رښتيني او سترې خطرې سره مخ شي. هغه دا هم ورزياته کړه چې د ګرجستانيانو يو تر ټولو مهم مشر له يوه پياوړي پوځي ځواک سره لا دمخه په کندهار کې مېشت دی. که نوموړی هلته پاڅون وکړي، صفوي دولت به په بشپړه توګه د اور په کړۍ کې راګير شي Krusinski)، 1729 131 :او ورپسې مخونه.(

د ميرويس خان دغو خبرو د اصفهان پر دربار ژور اغېز وکړ. شاه حسين، چې د خطر حساسيت يې درک کړی و، له ګرګين خان سره د مقابلې لپاره ميرويس خان ته خلعت ورواغوست او کندهار ته يې ولېږه.[16] ګرګين خان د خپل دغه دښمن له ازادېدو او کندهار ته له بېرته ستنېدو څخه سخت ناخوښ شو. خو ميرويس خان د صفوي دربار رسمي فرمان له ځان سره درلود، له همدې امله ګرګين خان نه شوای کولای هغه ته زيان ورسوي يا يې پر وړاندې اقدام وکړي.[17] ان دا چې هغه ميرويس خان ته اجازه ورکړه چې له کندهاره د پنځو يا شپږو منزلو په واټن، په کلات کې خپلې کرنيزې ځمکې ته ولاړ شي او هلته مېشت شي Maraşî)، 1342.(5 :

ميرويس خان هم په پيل کې له ګرګين خان سره خپله دښمني هېڅ څرګنده نه کړه، بلکې په ظاهره يې ورسره دوستانه اړيکې لا ټينګې کړې. په همدې وخت کې خبر راورسېد چې د کندهار ختيځ ته د فوشنج او شرج د رباطونو په شاوخوا سيمو کې مېشتو کاکړانو پاڅون کړی دی. ميرويس خان سمدستي ګرګين خان ته خبر ورولېږه چې دغه قبيله خورا خطرناکه ده، نو بايد يو پياوړی پوځ ورولېږل شي او پاڅون يې وځپل شي، که نه په کندهار کې به صفوي واکمني له ګواښ سره مخ شي. ګرګين خان د ميرويس خان په خبرو قانع شو او د ۱۷۰۹ زېږديز کال په اپرېل کې يې د خپل وراره الکساندر تر قوماندې لاندې يو پوځي ځواک د کاکړانو پر ضد ولېږه، چې ډېری سرتېري يې افغانان، بلوڅان او ګرجستانيان وو.[18]

په دې توګه، ميرويس خان له هغه فرصت څخه ګټه واخيسته چې د ګرجستانيانو او قزلباشانو له سرتېرو څخه جوړ د صفوي پوځ لويه برخه له کندهاره وتلې وه. هغه ګرګين خان له ښار نه دباندې د کوهکران په کلا کې يوې مېلمستيا ته راوباله، چې په ځانګړي ډول يې ورته برابره کړې وه. ګرګين خان دغه بلنه په خوښۍ ومنله او له نږدې دوو سوو سرتېرو سره د ميرويس خان کرنيز استوګنځي ته ورغی. له مېلمستيا وروسته، کله چې ګرګين خان او ملګري يې د استراحت لپاره خپلو ځايونو ته لاړل، د شپې په نيمايي کې ټول ووژل شول او په بشپړه توګه له منځه يووړل شول Yozefo Tiflisî)، 1137.(11a–11b :

ميرويس خان خپلو کسانو ته د ګرجستاني سرتېرو جامې ورواغوستې او په چټکۍ سره د کندهار کلا ته ورسېد. د کلا ساتونکو ګومان وکړ چې ګرګين خان او سرتېري يې بېرته راستانه شوي دي، نو د کلا دروازې يې ورته پرانيستې. غلجيان د دروازو له لارې کلا ته ننوتل او له هغو سرتېرو پرته چې په تېښته بريالي شول، نور ټول يې ووژل Yozefo Tiflisî)، 1137 .[19](11b–12a :ميرويس خان په کلا او ښار کې ټول هغه کسان ونيول چې د ګرګين خان پلويان وو يا يې له هغه سره مرسته کړې وه او د ګرګين خان خزانه يې هم تر خپلې ولکې لاندې راوسته. وروسته يې کلا په چټکۍ سره ټينګه او د دفاع لپاره چمتو کړه، شاوخوا افغان قبايلو ته يې پيغامونه واستول او هغوی يې کندهار ته راوبلل، څو ورسره يوځای شي Maraşî)، 1342.(7 :

الکساندر، چې د کاکړانو پر ضد له لښکرکښۍ څخه راستون شو، د ګرګين خان له برخليک څخه تر خبرېدو وروسته له غلجيانو سره په يوې سترې جګړې کې ښکېل شو، خو سره له دې چې د سرتېرو شمېر يې ډېر و، ماتې يې وخوړه او اړ شو چې ګرشک ته پناه يوسي. ميرويس خان، د کندهار په کلا کې تر ځای پر ځای کېدو وروسته، الکساندر ته د ګرګين خان د وژل کېدو په اړه داسې پيغام واستاوه: «ما دا کار په خپل سر نه دی کړی. کله چې زه په اصفهان کې وم، د پاچاهۍ اميرانو د دې شرط په بدل کې د کندهار حکومت ماته سپارلی و چې ګرګين خان ووژنم«...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

»اوس د هغه فرمان رارسېدو ته منتظر یم چې د کندهار د حاکم په توګه زما ټاکنه تأییدوي، دغه فرمان به ډېر ژر راورسېږي. ستاسو لپاره غوره دا ده چې د خپل تره مړی او خپل پاتې کسان درسره واخلئ او اصفهان ته ستانه شئ.» میرویس خان الکساندر ته په همدې مضمون پیغام واستاوه. الکساندر، چې بله چاره یې نه درلوده، د خپل تره تابوت، د هغه کورنۍ او پاتې ګرجستاني سرتېري له ځان سره واخیستل او هرات ته ولاړ Maraşî)، ۱۳۴۲ :۷ او ورپسې مخونه.(

میرویس خان، چې د کندهار د کلا د ټینګولو او دفاعي پیاوړتیا په هڅه کې و، د افغان سردارانو څخه یې ځینې په نرمه او د لطف په چلند او ځینې نور په زور تر خپل اطاعت لاندې راوستل. وروسته یې اعلان وکړ چې په کندهار کې یې یو خپلواک حکومت جوړ کړی دی Maraşî)، ۱۳۴۲ :۸ .(کله چې اصفهان ته دا خبر ورسېد چې ګرګین خان وژل شوی او صفوي پوځ هم له سختې ماتې سره مخ شوی دی، شاه حسین سمدستي خپل استازی کندهار ته ولېږه، ترڅو د پېښې له څرنګوالي ځان خبر کړي، خو میرویس خان له اصفهانه راغلی استازی بندي کړ.
شاه حسین، چې اوس یې د ورپېښې شوې سترې ستونزې حقیقت درک کړی و، بې‌له ځنډه یې د ګرګین خان وراره، خسرو خان چې په «کې خسرو» هم یادېده او هغه مهال په اصفهان کې د داروغې(د نظم د ټینګښت مسؤل) دنده پر غاړه درلوده، د پوځ د لوی قوماندان یا سپهسالار، په توګه وټاکه. وروسته یې هغه د دولس زره کسیز پوځ په مشرۍ، چې له قزلباش او ګرجستاني سرتېرو جوړ و، د ۱۷۰۹ زېږدیز کال په نومبر کې د کندهار پر لور ولېږه Krusinski)، 1729 138 :او ورپسې مخونه.(

خسرو خان د لارې په اوږدو کې له کرمان او هرات څخه د راټولو شویو ځواکونو په یوځای کولو سره د نږدې پنځوس زره کسیز پوځ په مشرۍ د کندهار پر لور وخوځېد Maraşî)، ۱۳۴۲ :۸ [21].(خو په پوځ کې د ګرجستاني او قزلباش سرتېرو ترمنځ د پرله‌پسې شخړو او نښتو له امله، دغه لښکر یوازې د ۱۷۱۰ زېږدیز کال په نومبر کې د فراه کلا ته ورسېد.[22] خسرو خان په فراه کې تر اوږدې دمې وروسته، د ۱۷۱۱ زېږدیز کال په اوړي کې د کندهار پر لور وخوځېد او د هلمند سیند پر غاړه یې خپل پوځي پنډغالی جوړ کړ Maraşî)، ۱۳۴۲ :۸ .(د میرویس خان تر مشرۍ لاندې غلجي ځواکونه هم د سیند پر مقابلې غاړې ځای پر ځای شول. دواړو پوځونو د یوې اوونۍ لپاره پر یو بل توپچي بریدونه وکړل. خسرو خان د هغو ابدالیانو په مرسته، چې په سیمه کې یې د صفوي پوځ ملاتړ کاوه، له سینده را واوښتل او د غلجیو پر سنګرونو یې بریدونه پیل کړل.[23]

میرویس خان چې پوه شو د صفوي پوځ پر وړاندې په پرانیستې جګړه کې د خپلو سنګرونو ساتلو توان نه لري، د کندهار کلا ته پر شا شو. صفوي ځواکونو کندهار کلابند کړ او مخه یې ونیوله چې ښار ته له بهر څخه خوراکي توکي او پوځي مهمات ورسېږي. خسرو خان په دې باور فکر عمل کاوه چې خپل دښمن یې په کلا کې کلابند کړی دی، خو افغان توپچیانو او ټوپکچیانو په ډېرې مېړانې او هڅې سره نه یوازې صفوي سرتېري کلا ته نږدې کېدو ته پرېنښودل، بلکې د شپې له خوا به په ناڅاپي ډول له کلا څخه راووتل او د ګرجستاني او قزلباش سرتېرو ګڼ شمېر به یې ووژل Maraşî)، ۱۳۴۲ :۱۴.(

غلجیانو د همدې لوړ مورال په مټ او د سیمې د شاوخوا قبایلو په مرسته، هره ورځ صفوي پوځ ته درانه تلفات اړول او له بهر څخه یې د دغه پوځ د خوراکي توکو د ترلاسه کولو لارې هم وتړلې. سربېره پر دې، د اوړي د سختې ګرمۍ له پیلېدو سره په پوځي پنډغالي کې د وبا ناروغۍ خپرېدو د صفویانو ټولې هیلې له منځه یووړې. خسرو خان دې پایلې ته ورسېد چې په دغو شرایطو کې د کندهار نیول ناشوني دي. له همدې امله یې پرېکړه وکړه چې د ژمي د تېرولو او له نویو ځواکونو سره د بېرته راستنېدو لپاره هرات یا مشهد ته پر شا شي Maraşî)، ۱۳۴۲ :۱۵ او ورپسې مخونه .(په همدې وخت کې، د ۱۷۱۱ زېږدیز کال د سپټمبر پر ۲۷مه، د خسرو خان وراره الکساندر او ملګري یې په یوې نښتې کې ووژل شول Sykes)، ۱۹۴۰ :۳۲۶ .(صفوي ځواکونه چې پوه شول د غلجیانو پر وړاندې خپل دریځ په چټکۍ سره له لاسه ورکوي، د ۱۷۱۱ زېږدیز کال د اکتوبر پر ۲۶مه یې شاتګ پیل کړ.

میرویس خان د صفوي ځواکونو له شاتګ څخه په ګټې اخیستنې، په چټکۍ له کندهاره راووت او په ناڅاپي بریدونو سره یې صفوي پوځ ته درانه تلفات واړول. خسرو خان د تېښتې پر مهال، د آس د ښوییدلو او پر ځمکه د لوېدو له امله ونیول شو او د ګُرز په ګوزار ووژل شوKrusinski) .، ۱۷۲۹ :۱۴۴ [24].(د صفوي پوځ ټول پوځي بارونه، تجهیزات او مهمات هم د غلجیانو لاس ته ورغلل Maraşî)، ۱۳۴۲ :۱۷.(

میرویس خان، چې د صفویانو له مزاحمت او لاسوهنې پرته یې په کندهار او شاوخوا سیمو کې خپل واک په بشپړ ډول ټینګ کړی و، په خپل نوم یې سکې ووهلې او د «عادل شاهِ عالم» لقب یې غوره کړ.[26] میرویس خان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له ۱۷۰۹ څخه تر ۱۷۱۵ زیږدیز کال پورې کندهار او د هغه شاوخوا سیمې، چې د ده تر واک لاندې وې، په ډېر تدبیر او مهارت اداره کړې. نوموړی د ۱۷۱۵ زیږدیز کال په نومبر کې په کندهار کې وفات شو او په کوهکران کې خاورو ته وسپارل شو (Krusinski، ۱۷۲۹: ۱۴۹.[27]).

دلومړی برخې پاورقیانې
۱ .د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ: ریاض‌الاسلام (۱۳۷۳)، د ایران او هند د اړیکو تاریخ، ژباړونکي: محمدباقر آرام او عباسقلي غفاري‌فرد، تهران: د امیرکبیر خپرندویه ټولنه.

۲ .بابر په ۱۵۲۲ زیږدیز کال کې د کندهار ښار، چې د ارغون‌شاهیانو د شجاع‌بیګ په واک کې و، ونیو او خپل زوی کامران یې د دغه ښار د والي په توګه وټاکه. وګورئ: ظهیرالدین محمد بابر (۱۹۸۷)، وقایع: د بابر خاطرې، لومړی ټوک، د ر. ر. آرات په سمونه، انقره: د ترکیې د تاریخ ټولنې خپرونې، مخ ۱۱۱.

۳ .د دې قبیلې د اصل او نسب په اړه، چې په سرچینو کې یې نوم د غلجایي، غلجي، غلجای او غلزای په بڼو ثبت شوی، وګورئ: اورهان یازیجي (۲۰۱۲)، «د غلجایانو اصل»، پروفیسور ډاکټر انور قونوقچو ته ډالۍ شوې علمي ټولګه، د ا. اې. آتنور په سمونه، انقره: بریکان خپرندویه ټولنه، مخونه ۴۶۱ــ۴۷۶.

۴ .ابدالیان په ځینو سرچینو کې د «ابدالان» په نوم هم یاد شوي دي [وګورئ: یوزیفو تفلیسي (۱۱۳۷)، د میرویس خان او شاه حسین پېښې، استانبول، خطي نسخه، پاڼه ۴الف]. د دې نظریې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، چې ابدالیان د هپتالیانو یا سپینو هونانو پاتې شوني او اولاده ګڼل شوي، وګورئ: قیام‌الدین رای برلاس (۱۹۸۶)، «له ترکـتوب سره د افغان قبایلو اړیکې: آیا ابدالیان د هپتالیانو (سپینو هونانو) لمسیان دي؟»، ترکي کلتور، ۱۴م ټوک، ۲۷۸مه ګڼه، جون، مخونه ۳۶۲ــ۳۷۰.

۵ .په دې دوره کې په هرات کې د ابدالیانو د نفوس شمېر د اټکل له مخې شاوخوا شپېتو زرو کورنیو ته رسېده. وګورئ: جان فوران (۱۹۹۲)، «د صفوي واکمنې کورنۍ اوږدمهاله زوال: له دودیزو نظریو ورهاخوا»، Middle East Studies، ۲۴مه ګڼه، مخ ۲۹۴.

۶ .د اسدالله خان اولاد، چې په قبیله کې په «سدو» مشهور و، وروسته د سدوزیو په نوم وپېژندل شول. وګورئ: فیض‌محمد کاتب هزاره (۱۳۷۲)، سراج‌التواریخ، لومړی او دویم ټوک، تهران: د بلخ د څېړنو او خپرونو مؤسسه، مخ ۴۸؛ اورهان یازیجي (۲۰۰۳)، احمدشاه ابدالي او د افغانستان د ملي دولت بنسټ‌ایښودنه، ۱۷۴۷ــ۱۷۷۲، ناچاپ شوې دوکتورا تیزس، مالاتیا: د ټولنیزو علومو انستیتیوت، مخ ۱۷.

۷ .د صفویانو تر واکمنۍ لاندې د کندهار د راتلو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ: عنایت خان (۱۹۷۶)، «شاهجهان‌نامه»، د هند تاریخ؛ لکه څنګه چې د دغه هېواد خپلو تاریخلیکونکو روایت کړی دی، اووم ټوک، د الیوټ او ډاوسن په سمونه، لاهور، مخ ۸۹ او وروسته مخونه. له اسدالله خان وروسته، په ترتیب سره محدود خان، خواجه خضر خان، خداداد خان ــ چې په «خدکي خان» هم یاد شوی ــ شېر خان، سرمست خان او دولت خان د قبیلې مشري پر غاړه اخیستې وه. وګورئ: ګنډا سینګ (۱۹۵۹)، احمدشاه دراني، بمبئ: ایشیا پبلشینګ، مخ ۳ او وروسته مخونه.

۸ .صفوي والي علي‌مردان خان، له دربار سره د اختلاف له امله، په ۱۶۳۸ زیږدیز کال کې کندهار هغه پوځ ته وسپاره چې شاهجهان استولی و. خو دویم شاه عباس، چې په ۱۶۴۲ زیږدیز کال کې پر تخت کښېناست، په هماغه کال یې د کندهار پر لور لښکرکشي وکړه او ښار یې بېرته ونیو. شاهجهان درې ځله د کندهار د نیولو لپاره لښکرکشي وکړه؛ خو له شاهي دربار څخه یې د اړتیا وړ ملاتړ ترلاسه نه کړ، له همدې امله بریالی نه شو. په دې توګه، کندهار د اتلسمې پېړۍ تر لومړیو پورې د صفویانو تر واکمنۍ لاندې پاتې شو. وګورئ: محمد علي (۱۹۵۸)، افغانستان: ملي وینټیا، لاهور: د پنجاب تعلیمي مطبعه، مخ ۱ او وروسته مخونه.

۹ .یوولسم ګیورګي، چې د شاهنواز خان په نوم د کندهار د بیګلربیګي په توګه ټاکل شوی و، په ایراني سرچینو کې تر ډېره د «ګرګین خان» په نوم یاد شوی دی. [وګورئ: میرزا محمد خلیل مراشي صفوي (۱۳۴۲)، مجمل‌التواریخ، د عباس اقبال په سمونه، د سنایي کتابتون، مخ ۳]. موږ هم په دې څېړنه کې غوره ګڼلې چې د ګرګین خان نوم وکاروو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱۰ .غلجيان د کندهار او شاوخوا سيمو په کچه، د پنځوس زره کورنيو يا نږدې دوه سوه او پنځوس زره تنو نفوس په درلودلو سره، يوه خورا ځواکمنه قبيله وه. وګورئ: جان فوران (۱۹۹۲)، «د صفوي واکمنۍ کورنۍ اوږدمهاله زوال: له دوديزو ليدلورو ورهاخوا»، Middle East Studies، ۲۴مه ګڼه، مخ ۲۹۴.

۱۱ .د «کلانتر» اصطلاح، چې د تاجيکانو او پښتو ژبو افغانانو ترمنځ د ادارهکوونکي او مشر په معنا کارېږي، د ترکانو ترمنځ د «آقسقال» او د هزارهګانو ترمنځ د «مختار» له اصطلاح سره برابره معنا لري. وګورئ: هنري والټر بليو (۱۸۸۰)، د افغانستان توکمونه، کلکته.Thacker, Spink & Co :، مخ ۱۶.

۱۲ .د ميرويس خان او د هغه د دورې په اړه وګورئ: بېنومه ليکوال (۱۷۲۴)، د فارس کرومويل: د ميرويس د ژوند، حيرانوونکو لاسته راوړنو او برياوو بيان، لندن.J. Roberts :

۱۳ .په هغه صفوي پوځ کې شامل ګرجستاني سرتېري، چې کندهار ته رسېدلي وو، د سيمې له خلکو سره يې خورا سخت او بېرحمانه چلند وکړ؛ تر دې چې د خلکو د سر او مال خونديتوب له منځه ولاړ .

ميرويس خان ګرګين خان ته خبرداری ورکړ چې د مسيحي ګرجستاني سرتېرو د سرغړونو او تېريو مخه ونيسي؛ خو کله چې يې کومه پايله ترلاسه نه کړه، د سيمې د مسلمانانو مشري يې پر غاړه واخيسته او پاڅون يې وکړ. وګورئ: ميرزا محمد خليل مراشي صفوي (۱۳۴۲)، مجملالتواريخ، د عباس اقبال په سمونه، د سنايي کتابتون، مخ ۴.

۱۴ .ميرويس خان د مکې له علماوو څخه په لاندې ټکو فتوا غوښتې وه:

»موږ د ايران د هېواد په تر ټولو ختيځه برخه کې، د هند له هېوادونو سره پر پوله، يو سني مسلمان ولس يو چې په بېلابېلو عشايرو او قبايلو وېشل شوی دی. له څه مودې راهيسې د عجم رافضي شاهان پر موږ برلاسي شوي او موږ د هغوی د قهر، زور او واکمنۍ لاندې بېوسه او درمانده محکومان ګرځېدلي يو.

اوس چې موږ د دغو عجميانو تر واک او رعيت لاندې يو، هغوی د خپلو بېشمېره او ډول ډول تېريو ترڅنګ، زموږ په مخ کې زموږ د ځلورو غوره يارانو [ځلورو راشده خلفاوو] ځينو ته ښکاره سپکاوی او ښکنځل کوي. همدارنګه يې د ساتنې په پلمه يو ناپوه، کافر او بېايمانه ګرجی خان له ګرجستاني پوځ سره زموږ د حاکم او والي په توګه ټاکلی دی.

هغوی د څرګند شريعت خلاف ګڼې کړنې ترسره کوي؛ په زور او جبر زموږ پر عزت، ناموس، کورنيو او اهل و عيال تېری او لاسدرازی کوي. زموږ اولادونه کله په زور او کله د غلا له لارې وړي، ګرجستان ته يې لېږي او هلته يې پلوري. ګرجستاني کافران زموږ پر ښځو هم په زور او جبر تېری کوي.

ايا شرعاً موږ بېوسو ته روا ده چې د ديني غيرت له مخې د دوی پر وړاندې توره راوباسو؟ که دغه چاره جګړې او وژنې ته ورسېږي، ايا زموږ له ډلې د دښمن وژونکی غازي او وژل شوی کس شهيد ګڼل کېږي؟ که د لوی خدای په مرسته د بريا باد زموږ پر لور راوالوزي، ايا د روافضو مالونه زموږ لپاره حلال او غنيمت دي؟ ايا شرعاً موږ ته اجازه شته چې هغوی اسيران او غلامان کړو، يا خپل هېواد د هند هغه مسلمان پاچا ته وسپارو چې زموږ په ګاونډ کې دی او هېواد يې زموږ له خاورې سره نښتی دی؟«

ميرويس خان د همدې پوښتنې په وړاندې کولو سره د مکې له علماوو څخه فتوا غوښتې وه. وګورئ: تادئوش يان کروسينسکي (۱۲۷۷)، تاريخ افغان؛ تاريخ سياح در بيانِ ظهورِ افغانان و سببِ انهدامِ بنای دولتِ شاهانِ صفويان، د ابراهيم متفرقه ژباړه، استانبول: د دارالسعادت جريدهخانې مطبعه، مخ ۳۹ او ورپسې مخونه.

۱۵ .ميرويس خان په دې وينا سره څرګندوي چې خپلې موخې ته رسېدلی و: «کله چې موږ هغوی ته موضوع بيان کړه او د حکم غوښتنه مو ترې وکړه، د دې کار د جواز په اړه يې ګڼې فتواوې راکړې؛ همدارنګه د مدينې او مکې ټولو فاضلو علماوو د هغه د جواز څرګندوونکي تصديقونه لاسليک او تأييد کړل.» وګورئ: تادئوش يان کروسينسکي (۱۲۷۷)، تاريخ افغان؛ تاريخ سياح در بيانِ ظهورِ افغانان و سببِ انهدامِ بنای دولتِ شاهانِ صفويان، د ابراهيم متفرقه ژباړه، استانبول: د دارالسعادت جريدهخانې مطبعه، مخ ۴۰.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۱۶ .وګورئ: تادئوش يان کروسينسکي (۱۷۲۹)، د فارس د انقلاب تاريخ، لومړی او دويم ټوک، ډبلين: د S. Powellچاپ، مخ ۱۳۲ او وروسته مخونه؛ لارنس لاکهارت (۱۹۵۸)، د صفوي واکمني کورنۍ سقوط او د فارس اشغال، کمبريج: د کمبريج پوهنتون مطبعه، مخ ۸۶.

۱۷ .ميرويس خان کندهار ته د راستنېدو پر مهال د ګرګين خان د ورور له خوا يو ليک له ځان سره راوړی و؛ د ګرګين خان ورور د اصفهان په دربار کې د ديوان‌بيګي دنده لرله. په دغه ليک کې ليکل شوي وو چې ميرويس خان د دربار او درباري کړيو له خوا د درناوي او محبوبيت وړ دی. وګورئ: تادئوش يان کروسينسکي (۱۷۲۹)، د فارس د انقلاب تاريخ، لومړی او دويم ټوک، ډبلين: د S. Powellچاپ، مخ ۱۳۳.

۱۸ .ميرويس خان د خپلو تابع غلجي سپرو له ډلې شاوخوا دوه يا درې زره کسان د الکساندر تر قوماندې لاندې پوځ ته وسپارل؛ خو نږدې څلور زره سپاره يې په خپله کلا کې وساتل، څو هره شېبه جګړې ته چمتو وي. وګورئ: ميرزا محمد خليل مراشي صفوي (۱۳۴۲)، مجمل‌التواريخ، د عباس اقبال په سمونه، د سنايي کتابتون، مخ ۵ او وروسته مخونه.

۱۹ .بدرالدين‌زاده ميرلواء علي‌بيګ په هغه استخباراتي راپور کې چې دامات ابراهيم پاشا ته يې ليکلی و، د ګرګين خان د وژل کېدو په اړه داسې معلومات وړاندې کړي دي:

»د هند او عجم ترمنځ د کوچي بورکانو په څېر يوه ډله اوسېږي چې د "سليماني افغانانو" په نوم يادېږي. دغه خلک اهل سنت او د حنفي مذهب پيروان دي. د هغوی قومي مشر، حاجي ميرويس، هغه مهال چې د حج د فريضې د ادا کولو لپاره په مکه کې و، پر قبايلي پيروانو يې ظلم او تېری وشو. کله چې بېرته راستون او خپلې سيمې ته ورسېد، هغه ديني دښمني او فطري غيرت يې څرګند کړل چې په زړه کې يې پټ او تينګ ځای نيولی و.

هغه د خپلې قبيلې له نږدې څلور زره کورنيو سره راغی، د يادې کلا په دښته کې يې خېمې ودرولې او سيمه يې د خپل لښکر تمځای وګرځوله. وروسته يې د کلا سپهسالار، د تفليس اوسېدونکی، د شاهنواز زوی او ګرجستانی‌الاصل ګرګين محمد خان، خپل کور ته مېلمه کړ او د شپې په نيمايي کې يې هغه له ټولو پيروانو، خدمتګارانو او ملګرو سره يوځای په بشپړه توګه وواژه.

بيا کلا ته ننوت؛ هلته مېشت ګرجستانيان او بدعقيده روافض يې د ښرې شوې ورې په څېر تيت‌وپرک، تباه او هک‌پک کړل. ياده کلا يې فتح او تر خپلې ولکې لاندې راوسته، د شيعه‌ګانو له سپکاوي او واکمنۍ څخه يې پاکه کړه او شاوخوا څلور زره زمرې‌صفت غازيان يې په کلا کې ځای پر ځای کړل«.

وګورئ: بدرالدين‌زاده ميرلواء علي‌بيګ (۱۹۷۵)، «قائمه: ۱۱۳۵–۱۱۱۷ هـ.ق. (۱۷۰۵–۱۷۲۳)»، د م. ف. قرزی‌اوغلو په خپرونه، د اتاترک پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د څېړنو مجله، ۷مه ګڼه، ځانګړی چاپ، انقره، مخ ۱۰۶.

۲۰ .د شاه تر قوماندې لاندې ګرجستانيان، سره له دې چې په ظاهر کې مسلمانان ښکارېدل، په زړه کې مسيحيان پاتې وو. خسرو خان هم د اسلام پرېښودو ته چمتووالی نيوه او په غاړه کې به يې صليب ګرځاوه. وګورئ: جورج بروس مالېسن (۱۸۷۹)، د افغانستان تاريخ، لندن: W. H. Allen & Co.، مخ ۲۳۳.

۲۱ .يوزيفو تفليسي کندهار ته د استول شويو سرتېرو شمېر څلوېښت زره قزلباشان ښودلی دی [يوزيفو تفليسي (۱۱۳۷)، د ميرويس خان او شاه حسين پېښې، استانبول، خطي نسخه، پاڼه ۱۳الف]. خو ميرلواء علي‌بيګ څرګندوي چې د خسرو خان تر قوماندې لاندې کندهار ته استول شوی پوځ تر شپېتو زرو کسانو پورې رسېده. وګورئ: بدرالدين‌زاده ميرلواء علي‌بيګ (۱۹۷۵)، «قائمه: ۱۱۱۷–۱۱۳۵ هـ.ق. (۱۷۰۵–۱۷۲۳)»، د م. ف. قرزی‌اوغلو په خپرونه، د اتاترک پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د څېړنو مجلې له اوومې ګڼې څخه ځانګړی چاپ، انقره، مخ ۱۰۶ او وروسته مخونه.

۲۲ .په صفوي دربار کې چې کوم مخالفت د ګرګين خان پر وړاندې رامنځته شوی و، ورو ورو د خسرو خان پر وړاندې هم پراخېده. سربېره پر دې، د ايران د خزانې مأمورانو له هرې ممکنې لارې هڅه کوله چې ګرجستاني سرتېرو ته ټاکل شوې پيسې ور ونه لېږي. په پوځ کې نورو مأمورانو او قوماندانانو هم نه غوښتل چې د يوه مسيحي قوماندان تر مشرۍ لاندې فعاليت وکړي. وګورئ: جورج بروس مالېسن (۱۸۷۹)، د افغانستان تاريخ، لندن : W. H. Allen & Co.، مخ ۳۲۳ او وروسته مخونه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۲۳ .په همدې وخت کې میرویس خان خبر ترلاسه کړ چې د ابدالیانو یو پنځه یا شپږ زره کسیز ځواک د خسرو خان مرستې ته ورځي. هغه چې له دې قبیلې سره د غلجیانو له پخوانۍ دښمنۍ ښه خبر و، سمدستي یې نږدې درې یا څلور زره وسله‌وال سپاره د هغوی پر وړاندې ولېږل. دغو سپرو، مخکې له دې چې ابدالیان له سینده واوړي، ناڅاپه پرې برید وکړ او د هغوی لویه برخه یې له تېغه تېره کړه. له دې سره سره، د ابدالیانو یوه برخه وتوانېده چې د خسرو خان مرستې ته ورسېږي. وګورئ: میرزا محمد خلیل مراشي صفوي (۱۳۴۲)، مجمل‌التواریخ، د عباس اقبال په سمونه، د سنایي کتابتون، مخ ۸ او ورپسې مخونه.

۲۴ .د صفوي پوځ په لیکو کې د سنټ چارلس د کرملیانو کشیش، فادر باسیل ووژل شو؛ خو ایټالوي جراح فرېسکوراتي وېرونېزي وتوانېد چې ژوندی پاتې شي. وګورئ: لارنس لاکهارت (۱۹۵۸)، د صفوي واکمنۍ کورنۍ سقوط او د فارس اشغال، کمبریج: د پوهنتون مطبعه، مخ ۹۰.
۲۵ .د قورچي‌باشي محمد زمان خان تر قوماندې لاندې په دې پوځ کې، د خراسان او استراباد د سردارانو ترڅنګ، قاجاران، د چمشګزک کُردان، ګرایلیان او اهلو...

دویمه برخه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ